# د غني خان یاد



ایس ایس روشان

یو د سپوږمۍ څاڅکې ما له ټیک له د جانان را
زۀ یم د خالونو د لالونو ګدا نۀ یمه

زۀ ئې په غرور درنه د مینې په نوم غواړمه
زۀ ملنګ بې نیازه ستا د ویر واویلا نۀ یمه

د آزادۍ په جنګ کښې رالوئې شوے غني خان په یو شتۀ من کور کښې پېدا شوے ؤ. او د پلار او مور مشر ځوي ؤ نو نازولے هم ؤ. غني خان ښکلے ؤ. زهین ؤ. او د آزادۍ د جنګ د پریوتو پاڅېدو تماشه ئې هم کړې وه. بلکې هغه په خپله تماشګیر نۀ ؤ. په لوبه کښې شامل ؤ. د دې هر څه سره ئې تعلیم هم اوکړو. شاعر هم شو او مصور هم.

په شاعرۍ ئې جذبې هم اوپارولې او خلقو ته ئې د غور او فکر کولو ترغیب هم ورکړو. دغسې کار او عمل ئې مصورئے هم کوو. څه چې ئې محسوس کول هغه ئې قلم او برش ته سپارل. تاریخ ئې هم لوستے ؤ. او زمونږ د دغه دور د جدوجهد دپاره ئې ترې د استفادې کوشش کړے ؤ. تنز و مزاح هم پکښې ؤ او سنجیده کلام به ئې هم خلق متاثره کول. د هغه د نظم، او شعر لیکلو انداز زمونږ د کلاسک شاعرۍ نه بدل ؤ. یعنې هغه د یو منفرد انداز شاعر ؤ. د حساس طبعیت سړے ؤ. انګریزي ادب ئې وئیلے ؤ. خو خپله شاعري او خپل منفرد انداز ئې د پښتنو لارو کوڅو او ژوند ژواک ته وقف کړے ؤ. په پښتون ثقافت(کلتور) او تهذیب ئې ډېر نزدې نظر لرلے دے. مشاهده ئې په شاعرۍ او مصور ئې دواړو کښې لیدے شي. د دې هر څه او پښتون ژوند ژواک ترجمان ؤ. د ژوند سحر او ماښام ئې د دغې هر څه سره تړلي وو.

ډېر ګلونه لږ یاران
یو رنګین غوندې ماښام

دا هغۀ د ژوند حاصل ګڼل او دغې خیال ته هغه د دې وطن مالکان رابلل. دا هر څه هغه د پښتون ژوند دپاره غوښتل. او د هغه په خیال دا ناممکن نۀ ؤ. د دغې خیال او فکر دغه درانۀ تر مرګه مرګه هغه د خیال په اوګو وړې دي.

پینځلسم مارچ د هغه د وفات ورځ ده. او مونږ ئې د یاد په طور هر کال راتازه کوو. د هغه د مرګ نه پس پښتنو د هغه د سل کاله پوره کېدو په وخت د هغه کلیز جشن اونمانځه. خلقو یاد کړو، اوئې ستائیلو او په تاریخ کښې ئې محفوظ کړو. نن د دغې یادونو سره د پښتنو په زړونو کښې د غني خان نوم ژوندے دے او تل به ژوندے وي. ځکه چې د وخت تېرېدو سره د هغه د افکارو سره خلق نور هم اشنا کېږي.